مطبوعاتي اعلامیه

# د اسلامي ورورولئ بیا را ژوندي کول؛ راشده خلافت به د پاکستان د پوځ او قبایلو مسلمانان پر کفر د بري لپاره بسیج کړي

(ژباړه)

د روژې په مبارکه میاشت کې د پاکستان د پوځ مسلمانانو او قبایلو مسلمانانو ترمنځ شدیدې جګړې پر مهال د مسلمانانو سپېڅلې وینه تویه شوه. د مارچ په ۱۷مه اووه پاکستاني سرتېري ووژل شول. بیا د مارچ په ۱۸مه په افغانستان کې د پاکستان د هوایي ځواک د بمباریو په پایله کې نور مسلمانان ووژل شول. بیا چې افغان طالبانو بریدونه وکړل، یوولس نور مسلمانان پکې ووژل شول. لسګونه مسلمانان مو یوازې د روژې مبارکې میاشتې په دغو درېیو ورځو کې له لاسه ورکړل او زرګونه نور مو بیا د دغې خپلمنځې جګړې په تېرو کلونو کې له لاسه ورکړي وو. یوه خوا هم نه پر شا کېږي او په دواړو لورو کې مومنان له لاسه ورکوو. دا په داسې حال کې ده چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم، چې د دواړو خواوو پر مسلمانانو تر ځان ډېر ګران دی، فرمایلي:

**«قَتْلُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ زَوَالِ الدُّنْيَا»**

**ژباړه:** *د یوه مومن قتل د الله په نزد د ټولنې نړۍ تر ویجاړۍ لویه او سخته خبره ده.* (نسائي)

په دغه حدیث کې دا مطرح نه ده چې مسلمان د کوم ځای وي یا یې قوم او نژاد څه وي. دا همداسې ده او باید همداسې وي. هغسې نه لکه د پاکستان د پوځ مشر چې د جنوري په ۲۴مه وویل: «کله چې د یوه پاکستاني وګړي د خوندیتوب او امنیت خبره کېږي، نو ټول افغانستان پرې محکوم او رټل کېدای شي». نه، هېڅکله داسې نه ده!

**اې د پاکستان د پوځ او قبایلو مسلمانانو!** هره هغه توره ماته کړئ چې مسلمان ته نیول کېږي. وسلې مو زموږ اصلي دښمنانو، کفري دولتونو ته ونیسئ چې زموږ پر وړاندې جنګېږي او خاورې مو اشغالوي. همدا کفري دولتونه غواړي چې زموږ ترمنځ جګړه اوږده شي. موږ چې په خپل منځ کې جنګېږو، دوی مو تر څنګ ولاړ وي. ومو لیدل چې څنګه د امریکا سفیر له ولسمشر زرداري سره

وکتل چې په جګړه کې خپل ملاتړ تريې وښيي. د مارچ په ۱۸مه د امريکا د سفارت په اعلاميه کې ويل شوي: «سفير په وزيرستان کې د وروستي ترهګريز بريد په پايله کې وژل شوو پاکستاني سرتېرو په پار خپله غمشريکي وښوده او ولسمشر (زرداري) ته يې ډاډ ورکړ چې متحده ايالات د ترهګرۍ ضد جګړه کې د پاکستان تر څنګ درېږي». کفار له سوډانه نيولې تر پاکستانه، په ټوله اسلامي نړۍ کې زموږ خپلمنځي جګړه هڅوي؛ هر چېرې چې زموږ په منځ کې جګړه وي، امريکايي سفيران يې لکه شيطانان تحريکول کوي. زموږ قوت او ځواک د ورونو او مومنانو په توګه زموږ په خپل منځ کې دی. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا﴾ [النساء: ۱۳۹]**

**ژباړه:** *«هغه کسان چې له مسلمانانو پرته کافران په دوستۍ نيسي، آيا دوی له هغوی څخه عزت او قدرت غواړي؟ حال دا چې قدرت او عزت ټول له الله تعالی سره دی.»*

**اې د پاکستان د پوځ او قبايلو مسلمانانو!** زموږ ترمنځ جګړه هغه څه دي چې امريکا يې د سيمه‌ييز امنيت د توازن لپاره غواړي. په داسې حال کې چې موږ سره جنګېږو، زموږ دښمن او د امريکا متحد، هند پر موږ خپل تسلط ټينګوي. په داسې حال کې چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ پر پوله اور بل دی؛ له هندو دولت سره پر پوله خير و خيرت دی. په داسې حال کې چې د پاکستان پوځ او قبايلي جنګيالي د يوې بې پايه جګړې په دام کې نښتي؛ هندو پوځ ازادانه د سيمې له مسمانانو سره پر خپله دښمنۍ تمرکز کوي. اې مسلمانانو، دا بايد همداسې وي!؟ الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ۚ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ [الفتح: ۲۹]**

***ژباړه:*** *«محمد صلی الله عليه وسلم د الله رسول او څوک چې له هغه سره دي د کفارو پر وړاندې توند او سرسخته او په خپلو منځونو کې مهربانه او زړه‌سواندي دي».*

ايا مسلمانان بايد له يو بل سره په دښمنۍ او غچ اخيستو کې وي، يو بل ووژني، پر يو بل بريد وکړي؟ ايا مسلمانان بايد له کفر سره يوازې جوړجاړی وکړي، اړيکې عادي کړي او محدود شي؟ اې مسلمانانو، دا څنګه شونې ده!؟

**اې د پاکستان د پوځ او قبایلو مسلمانانو!** نن څنګه له یو بل سره جګړه کوئ؟ تاسو هغه کسان نه وئ چې لږ وخت وړاندې د یو بل ترڅنګ د کفر پر وړاندې جنګېدئ؟ تاسو هغه کسان نه وئ چې د یو بل په مرسته مو د شوري اشغالګر سرتېري وشړل؟ تاسو هغه کسان نه وئ چې د یو بل په مرسته مو په سیمه کې د مسلمانانو لپاره ټیکاو راوستی و؟ تاسو هغه کسان نه وئ چې په ګډه مو ډیورنډ کرښه خوندي او هوسا ساتلې وه او هلته له هند سره د کنټرول پر کرښه کلونه کلونه هندو پوځ له وېرې خوب نه شو کولی؟ د اسلام په سبب ستاسو ترمنځ هیڅ جګړه نه وه. نن ورځ مو هم دا جګړه اسلام ختمولی شي. په یاد ولرئ چې د مدیني قبیلې تر اسلام وړاندې سره په جګړه کې وې؛ خو تر اسلام وروسته په یوه صف کې د واحد پوځ په توګه د کفر پر وړاندې ودرېدې. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا﴾** [آل عمران: ۱۰۳]

*ژباړه: « او ټول د الله پر رسی منګولې ولګوئ او وېشل کېږئ مه، د الله هغه (ستر) نعمت درياد کړئ، چې تاسې يو د بل دښمنان وئ؛ خو هغه مو په زړونو کې مينه واچوله؛ نو په لورېينې يې (يو د بل) وروڼه شوئ»*

**اې د پاکستان د پوځ او قبایلو مسلمانانو!** وضعیت د کفر او کفري دولتونو پر ضد بدل کړئ. د تاریخ څپه د اسلام او اسلامي امت په ګټه بدله کړئ. د الله سبحانه و تعالی د کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سنتو په حاکمولو سره د مسلمانانو ترمنځ دښمني په یوه تېره ترخه خاطره بدله کړئ. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالآبَاءِ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ لَيَدَعَنَّ رِجَالٌ فَخْرَهُمْ بِأَقْوَامٍ إِنَّمَا هُمْ فَحْمٌ مِنْ فَحْمِ جَهَنَّمَ أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجِعْلاَنِ الَّتِي تَدْفَعُ بِأَنْفِهَا النَّتْنَ** (سنن ابي داود)

*ژباړه: الله تعالی د جاهلیت د وخت تکبر او پر پلرونو (قومونو) وياړ له تاسو څخه ایسته کړی دی (تاسو یې ترې منعه کړي یاست) سړی به یا پرهېزګار مؤمن او یا به بدمرغه او نافرمانه فاجر وي. تاسو ټول د ادم اولاد یاست او ادم له خاورې څخه و. خلک به یا خامخا پر خپلو قومونو وياړ پرېږي، ځکه پر قومونو وياړ کوونکي خلک د جهنم سون توکي دي او که نه (که پر قومونو فخر کول پرېنږدي) نو د*

*الله تعالی پر وړاندې به تر هغې ګونګتې (تورې کوچنۍ حشرې) ډېر سپک او ذلیل شي چې په خپلې پزې مرداري تېلوهي.*

د یو بل ترڅنګ د وروڼو پشان د راشده خلافت د تاسیس لپاره کار وکړئ. یوازې د نبوت پر منهج خلافت دی چې موږ ټول د اشغال شوي کشمیر او غزې د ازادولو لپاره بسیج کوي او مو دښمن پر شا تېښتې ته اړ باسي.

د حزب التحریر – ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۵هـ.ق کال د رمضان ۱۱مه

۲۰۲۴م کال د مارچ ۲۱مه

د صدور ګڼه: ۴۰/۱۴۴۵